# د افغانستان اسلامي امارت
## د ارشاد ، حج او اوقافو وزارت
## د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست
## د ارشاد او دعوت آمریت
## د خطبو دتنظیم عمومي مدیریت

دجمعې د خطبې لاربښود مؤرخ: ۱۴۴۳/۱۱/۴ هجری قمری مطابق۱۴۰۱/۳/۱۳ هجری شمسی

# د حرمَینُو شریفینو (مکې مکرمې او مدینې منورې) فضیلت

إن الحمد لله ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادى له، وأشهد أن لا إله إلا اله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله. أمابعد :

قال الله عزوجل في محكم كتابه أعوذ بالله من الشيطان الرجيم: {إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكاً وَهُدىً لِلْعَالَمِينَ فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَقَامُ إِبْرَاهِيمَ وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِناً وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ} آل عمران : ۹۶، ۹۷

## الف/ د مکې مکرمې فضلیت:

الله تعالی مکې مکرمې ته د ټولې دنیا په ښارونو او زمکو فضیلت ورکړی دی. دمکې مکرمې په فضیلت باندې بې شمیره آیتونه دلالت کوي .

په مکه مکرمه کې د مسلمانانو قبله ده او مسلمانان د نړۍ له هر کونج څخه په پنځه وخته لمونځ کې خپل مخونه دقبلې په لور اړوي او چې کله مسلمان مړ شي، نورو مسلمانانو ته امر شوی دی چې د مړي مخ دقبلې په لور واړوي.

په مکه مکرمه کې هغه دیني شعائر او مقامات موجود دي چې په اړه یې دقرآن کریم آیتونه او د پیغمبر آحادیث صراحت لري، لکه صفا او مروه، مقام ابراهیم، مسجد الحرام، ملتزم، حجر الاسود، رکن یمانی، منی او عرفات.

الله تعالی فرمايلي دي:{إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكاً وَهُدىً لِلْعَالَمِينَ. فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَقَامُ إِبْرَاهِيمَ وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِناً} آل عمران: ۹۶-۹۷

لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:{إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ...}البقرة: ۱۵۸

{وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلّىً} البقرة: ۱۲۵

په یو حدیث شریف کې دمکي حرم په اړه داسې راځي: (عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ - رضي الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم - أَنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَدَعَا لَهَا وَحَرَّمْتُ الْمَدِينَةَ كَمَا حَرَّمَ إِبْرَاهِيمُ مَكَّةَ وَدَعَوْتُ لَهَا فِي مُدِّهَا وَصَاعِهَا مِثْلَ مَا دَعَا إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَام لِمَكَّةَ) صحيح البخاري

**ترجمه:** ابراهیم مکې ته عزت ورکړ او دعاېي ورته وکړه او لکه ابراهیم علیه السلام چې مکی ته عظمت ور کړی ؤ ما هم مدینې منورې ته عظمت ورکړ او او د محصول د زیاتوالی لپاره مې ما دعا ورته وکړه لکه چې ابراهیم مکی ته دعا کړې وه.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ حَمْرَاءَ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفًا عَلَى الحَزْوَرَةِ فَقَالَ: (وَاللَّهِ إِنَّكِ لَخَيْرُ أَرْضِ اللَّهِ، وَأَحَبُّ أَرْضِ اللَّهِ إِلَى اللَّهِ، وَلَوْلَا أَنِّي أُخْرِجْتُ مِنْكِ مَا خَرَجْتُ).
سنن الترمذي، ابن ماجة

**ترجمه:** عبدالله ابن عدی رضي الله عنه فرمايي ما رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد چې د حروزه په مقام کې ولاړ ؤ او داسې يي وفرمايل: ای مکې قسم په الله چې ته دالله غوره زمکه يې او الله ته دنورو زمکو څخه ډيره خوښه يې، که چيرې زه له تا څخه په زوره نه وم ويستل شوی، له تا څخه به نه وم وتلی.

په مکه مکرمه کې د عبادتونو او عملونو ثواب د نورو ښارونو او ځايونو په پرتله خورا ډير دی او په دی مقدس ښارکې يو رکعت لمونځ د نورو ځايونو د سل زره رکعتونو سره برابر دی.
(عن ابی هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: (عن أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم، قَالَ: صَلاَةٌ فِي مَسْجِدِي هذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلاَةٍ فِيمَا سِوَاهُ، إِلاَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ ).متفق عليه و زاد أحمد وابن ماجة:( وَصَلاَةٌ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، أَفْضَلُ مِنْ مِئَةِ أَلْفِ صَلاَةٍ فِيمَا سِوَاهُ) مسند أحمد /سنن ابن ماجه
**ترجمه:** دابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يو لمونځ زما په مسجد کې د نورو مسجدونو څخه زر ځله غوره دی پرته له مسجد حرام څخه. امام احمد او ابن ماجه په روايت کې راغلی دي چې يو لمونځ په مسجد الحرام کې د نورو مسجدونو په پرتله سل زره بهتره دی.
**د مکې مکرمې عظمت او احترام :**
حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت وايي چې رسول الله د مکې فتحې په ورځ وفرمايل: (فَإِنَّ هَذَا بَلَدٌ حَرَّمَهُ اللهُ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ وَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَإِنَّهُ لَمْ يَحِلَّ الْقِتَالُ فِيهِ لِأَحَدٍ قَبْلِي وَلَمْ يَحِلَّ لِي إِلَّا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ فَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا يُعْضَدُ شَوْكُهُ وَلَا يُنَفَّرُ صَيْدُهُ وَلَا يَلْتَقِطُ لُقَطَتَهُ إِلَّا مَنْ عَرَّفَهَا، ولا يُخْتَلَى خلاها ) صحيح البخاري
**ترجمه:** الله جل جلاله د آسمانونو او زمکی پيدايښت په ورځ دي ښارته کرامت او عظمت ور کړی دی او د قيامت ورځې پوری دا احترام به تل پاتې وي، بيشکه په دې ښار کې جنګ دهيچا لپاره زما څخه دمخه حلال نه ؤ او زما لپاره هم پرته د ورځې د يوه ساعت څخه هم حلال نه دی، د قيامت د ورځې پوری ددې ښار احترام تل پاتې وي، ددې ښار ونه به نه قطع کيږي، ښکار به يې نه شړل کيږي او موندل شوی څيز به يې نه را اخيستل کيږي؛ مګر که هغه څوک چې داعلانولو په موخه يې را اوچت کړي او شنه ګيا به يې نه ريبل کيږي.
**په مکه مکرمه کې دګناه او معصيت سزا خورا سنګينه او زياته ده:**
همدا رنګه دهغه چا سزا چې په دې مبارک ښار کې دګناه او معصيت مرتکب شي دنورو ښارونو په نسبت خورا سنګينه او زياته ده. الله تعالى فرمايلي دي: {إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِي جَعَلْنَاهُ لِلنَّاسِ سَوَاء الْعَاكِفُ فِيهِ وَالْبَادِ وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ} الحج: (٢٥)
**ترجمه:** بيشکه هغه کسان چې کافران دي او منع کوي خلک دالله جل جلاله له لارې څخه او دمسجد الحرام څخه، چې مونږ جوړ کړی دی دټولو خلکو لپاره ، به هغه کې د هغه ځای د اوسيدونکو او دبهر راتلونکو حقوق برابر دي ( د دداسې کسانو چار چلند په يقيني ډول د سزا وړ دی) او څوک چې په مسجدالحرام کې اراده د انحراف وکړي ګناه او معصيت ته، وبه څکو وربانديې عذاب دردوونکی.
په يو حديث شريف کې راځي:(عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ أَبْغَضُ النَّاسِ إِلَى اللهِ ثَلَاثَةٌ مُلْحِدٌ فِي الْحَرَمِ وَمُبْتَغٍ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ وَمُطَّلِبُ دَمِ امْرِئٍ بِغَيْرِ حَقٍّ لِيُهَرِيقَ دَمَهُ) صحيح البخاري
**ترجمه:** دعبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: بدترين دخلکو الله تعالى ته دری کسان دی: په حرم کې ګناه کوونکی، په اسلام کې دجاهيلت دطريقو لټونکی او په ناحق دانسان دوينو غوښتونکی ترڅو وينه يې توبه کړي.
په يو بل حديث کې راځی: (عَنْ عَيَّاشِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ الْمَخْزُومِيِّ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :(لاَ تَزَالُ هَذِهِ الأُمَّةُ بِخَيْرٍ، مَا عَظَّمُوا هَذِهِ الْحُرْمَةَ ، حَقَّ تَعْظِيمِهَا ، فَإِذَا ضَيَّعُوا ذَلِكَ ، هَلَكُوا). سنن ابن ماجة

ترجمه: دحضرت عیاش ابن ابی ربیعه رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا امت به ترهغې په خیر کې وي ترڅو پورې چې دوی ددې (کعبې/مکې) ریښتینی درناوی کوي؛ کله چې دوی د(کعبې / مکې) درناوی پریښود هلاک به شي.

## ب/ د مدینې منورې فضلیت:

مدینه منوره زیات فضلیتونه لري او داسی ښار دی چې د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم په نزد لوړه درجه او مقام لري.
په مدینه منوره کې هغه ځای موجود دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په اړه ویلي دي ، چې دا دجنت له باغیچو څخه یوه باغیچه ده.
(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ) صحیح مسلم
**ترجمه:** زما د کور او زما دمنبر ترمنځ ځای دجنت له باغیچو څخه یوه باغیچه ده.
د رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې او اوسیدونکو ته یې دعا دا ثابتوي چې دغه ښار د دنیا او آخرت خیر او ښیګنه لري.
په یو حدیث شریف کې راځي: (عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: اللهُمَّ اجْعَلْ بِالْمَدِينَةِ ضِعْفَيْ مَا بِمَكَّةَ مِنْ الْبَرَكَةِ) رواه مسلم
**ترجمه:** دحضرت انس ابن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ای الله ! وګرځوه هغه څه چې په مدینه منوره کې دي دوه چنده دمکې دبرکت څخه.
دمدینې منورې سره پیغمبرعلیه السلام زطیاته مینه درلوده، حضرت انس رضي الله عنه فرمایې: پیغمبرعله السلام به چې کله له سفر څخه واپس راتللو نو دمدینې منورې دیوالونوو یعنی دمدینې منورې په لور به یې خپل اوښ زغلولو او که به په آس یا قچر شسپور ؤ هغه به یې تیزوله او دا په دې وجه چې دنبي علی السلام له مدینې منورې سره زیات محبت درلود.
د ام المؤمنین عایشه رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: (اللّهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الْمَدِينَةَ كَمَا حَبَّبْتَ إِلَيْنَا مَكَّةَ أَوْ أَشَدَّ، وَانْقُلْ حُمَّاهَا إِلَى الْجُحْفَةِ) البخاری کتاب الدعوات
**ترجمه:** یا الله! مدینه منوره د مکې په خیر یا د هغی نه زیات مونږ ته محبوبه کړه او هغه د مرضونو او رنځونو څخه په امان کې وساته او تبه یې جحفې ته انتقال و فرمایه.(په دغه وخت کې جحفه دکفارو ځای ؤ. الدیباج علی مسلم)
مدینه منوره هغه زمکه ده چې په آخره زمانه کې به ورته اهل ایمان راټولیږي او دایمان دخاوندانو ځای به وي.
په حدیث شریف کې راځي:(عن أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم، قَالَ: إِنَّ الإِيمَانَ لَيَأْرِزُ إِلَى الْمَدِينَةِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا) صحیح البخاری
**ترجمه:** په آخره زمانه کې به اهل ایمان مدینې منورې ته داسې را ټول شي لکه څرنګه چې مار خپلې سوري ته راټولیږي.
په مدینه منوره کې اوسیدل خوار زیات فضیلت لري او څوک چې په مدینه منوره کې اوسیدل غوره کړي او دمدینې منورې په سختیو، مشقتونو او مشکلاتو صبر وکړي  او په مدینه منوره کې وفات شي، پیغمبرعلیه السلام به یي دقیامت په ورځ شفاعت کوي.
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (لَا يَصْبِرُ عَلَى لَأْوَاءِ الْمَدِينَةِ وَشِدَّتِهَا أَحَدٌ إِلَّا كُنْتُ لَهُ شَفِيعًا أَوْ شَهِيدًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ) صحیح مسلم ، سنن الترمذي

**ترجمه:** ابوهریره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: زما په امت کې هر څوک چې په مدینه منوره کې په سختۍ ، لوږه او هلته په تکلیف او مشقت صبر وکړي، دقیامت په ورځ به يې زه د هغه شفاعت وکړم او د هغه په ایمان به شهادت ورکړم.

عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (مَنْ اسْتَطَاعَ أَنْ يَمُوتَ بِالْمَدِينَةِ فَلْيَمُتْ بِهَا، فَإِنِّي أَشْفَعُ لِمَنْ يَمُوتُ بِهَا) سنن الترمذي

**ترجمه:** څوک چې ددې توانايي لري چې په مدینه منوره کې وفات شي ، په مدینه منوره کې دې وفات شي، ځکه زه دهغه چا شفاعت کوم چې په مدینه منوره کې وفات شوی وي.

مدینه منوره هغه مبارک ښار دی چې له ځانه ناکاره خلک شړي او بيرون وتلو ته يې اړ باسي.

په يو حديث شريف کې راځي:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَدْعُو الرَّجُلُ ابْنَ عَمِّهِ وَقَرِيبَهُ هَلُمَّ إِلَى الرَّخَاءِ هَلُمَّ إِلَى الرَّخَاءِ وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يَخْرُجُ مِنْهُمْ أَحَدٌ رَغْبَةً عَنْهَا إِلَّا أَخْلَفَ اللهُ فِيهَا خَيْرًا مِنْهُ أَلَا إِنَّ الْمَدِينَةَ كَالْكِيرِ تُخْرِجُ الْخَبِيثَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَنْفِيَ الْمَدِينَةُ شِرَارَهَا كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ) صحيح مسلم

**ترجمه:** په خلکو به داسې زمانه راشي چې يو سړی به خپل د تره زوی او خپلوان را بولي او ورته به وايي چې راشه د پراخۍ خوا ته ، راشه دپراخۍ خواته او مدینه منوره به ورته ډيره غوره وي که چيرې دوی پوهيدلای چې په مدینه کې اوسيدل څومره فضيلت لري. زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح دهغه په لاس کې دی دمدينې منورې څخه به څوک نه وزي ؛ مګر دده څخه به ورته الله غوره انسان راولي ، بيشکه مدینه داهنګر دنغري په څير دی چې خبيث شی نه پريږدي، قيامت به ترهغې قائم نه شي ترڅو پورې چې مدینه منوره له ځانه هغه ناکاره خلک پاک نه کړي لکه څرنګه چې داهنګر نغری وسپنه له زنګ څخه پاکوي .

همدا شان په صحيح البخاری او مسلم کې د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت شوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمايل:( لَيسَ مِنْ بَلَدٍ إلاَّ سَيَطَؤُهُ الدَّجَّالُ إلاَّ مَكَّةَ وَالمَدِينَةَ ؛ وَلَيْسَ نَقْبٌ مِنْ أنْقَابِهمَا إلاَّ عَلَيْهِ المَلاَئِكَةُ صَافِّينَ تَحْرُسُهُمَا ، فَيَنْزِلُ بالسَّبَخَةِ، فَتَرْجُفُ المَدِينَةُ ثَلاَثَ رَجَفَاتٍ ، يُخْرِجُ اللهُ مِنْهَا كُلَّ كافِرٍ وَمُنَافِقٍ ) صحيح مسلم

**ترجمه:** د مکې او مدينې نه پرته هر ښار ته د جال داخليږي او د مدينې په لارو او دروازو کی فرښتې کتار کې ولاړې وي او د مدينې منورې حراست کوي، دجال په شوره خاوره کې راښکته کيږي او مدینه منوره به دری ځل و شوريږي او هر کافر او منافق تری راووځي.

همدا راز څوک چې مدينې منورې ته د زيان په سترګه وګوري ، الله تعالی به يې محوه کړي او څوک چې د مدينې منورې اوسيدونکو سره دفريب او مکر څخه کار اخلي داسې به ويلي شي لکه څرنګه چې مالګه په اوبو کې ويلي کيږي.

په حديث شريف کې راځي: (عن أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَنْ أَرَادَ أَهْلَهَا بِسُوءٍ يُرِيدُ الْمَدِينَةَ أَذَابَهُ اللهُ كَمَا يَذُوبُ الْمِلْحُ في الْمَاءِ) صحيح مسلم

**ترجمه:** دابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: څوک چې دمدينې منورې اوسيدونکو ته د زيان رسولو اراده وکړي، الله تعالی به يې داسې محوه کړي، لکه څرنګه چې مالګه په اوبو کې محوه کيږي.

**د مدينې منورې ځينې فضليتونه او ځانګرتياوې:**

۱- رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدينې منورې سره مينه او محبت درلود.

۲-مدینه منوره داسلام هغه ستر ښار دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم يي دحرم حدود معين کړي دي.

۳-په مدینه منوره کې دجهانيانو سردار محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم قبرمبارک موجود دی.

۴-په مدینه منوره کې مسجد نبوي دی چې يو لمونځ په کې د زرو لمونځونو برابر ثواب لري.

۵-په مسجد نبوي کې د جنت له باغيچو څخه يوه باغيچه ده.

۶-مدینه منوره د هجرت زمکه او د سنتو سرچينه ده .

۷-مدینه منوره د دجال او طاعون له داخليدو څخه په امان کې ده.

۸-څوک چې د مدينې منورى اوسيدونکو ته په بده سترګه وګوري د مالګې په څير به اوبه شي او محوه به شي.
۹-څوک چې د مدينې منورى اوسيدونکي و بيروي الله جل جلاله ورباندې لعنت وايې، فرض او نفل يې نه قبلوي.
۱۰-په مدينه منوره کې اوسيدل دايمان نښه او په مدينه منوره کې وفات کيدل دپيغمبرعليه السلام دشفاعت لامل ګرځي.
۱۱-مدينه منوره داسلامي غزواتو مرکز او دپيغمبرعليه السلام داوسيدوځاى دى.

اقول قولي هذا، استغفرالله لي ولکم ولسائر المسلمين
والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته